**بسم الله الرحمن الرحیم**

# کورني د آرامي او د میني ځاي دی

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کي فرمایلي: « هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا» ژباړه: « هماغه الله دی چي تاسي یې له یوه نفس څخه پیدا کړئ او د هماغه له جنس څخه یې د هغه جوړه منځ ته راوړه، تر څو چي له هغې سره بسیا شي.» او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

یقیني توګه سره کورني د ټولنی بنسټ دی او د هغه د جوړوني لپاره مهم دي د کورني په ټینګښت او برقراری سره د ټولني ټینګښت او برقراري رامنځته کیږي نو د همدي لپاره د اسلام مبارک دین د کورنی د جوړونی لپاره ډیر اهمیت ورکړی دی ځکه چې پدي سره ارامي مینه او محبت او د ټولو وګړو ترمنځ رحمت رامنځته کیږي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ» ژباړه:« او د هغه له نښانو څخه (بله) دا ده چي ستاسي لپاره، همدا ستاسي له جنس څخه یې میرمني پیدا کړې، تر څو چي تاسي له هغو سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسي (ښځي او خاوند) په منځ کښي یې مینه او خواخوږي پیداکړه. په باوري ډول پدې کښي د هغو خلکو لپاره ډیري نښاني دي چي غور او فکر کوي.».

څوک چي پدغه ایت کې فکر وکړي وبه ګوري چې الله جل جلاله ددي بیان کړی دی چې د کورنی جوړښت د لویو نښو څخه ګڼل کیږي الله جل جلاله واده د ارامي یو نښه ګرځولي ده ځکه چي سړی د خپلي میرمني سره په ارامه توګه سره ژوند وکړي او همدارنګه میرمنه د خپل خاوند ترڅنګ الله جل جلاله مینه او محبت او رحمت د کورني د جوړښت بنسټونه ګرځولي دي مینه پدي معنی سره چې یو له بل سره خه چال چلند وشي او همدارنګه یو بل باید وزغمل شي او یو د بل په طبیعتونو باندي پوه شي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: مومن باید د مومني څخه نفرت ونکړي اګر که په ځیني اخلاقو کي د هغه بدی راځي نو ځیني نور به یی د هغه خوښ شي نو پدي سره کورنی د نیکو اخلاقو په ټینګښت باندي ولاړه ده ترڅو په ښه ډول سره ژوند ترسره شي او نرمښت رامنځته شي اوپدغه برقراری سره ددی لامل کیږي چې کورني په ښه ډول سره وروزل شي او پدي ترڅ کې نیک خصلتونه اولادونو ته انتقال شي ترڅو د کور په ټولو برخو کې خوښي خپره شي.

د ارامي او د میني رامنځته کیدو لپاره په کورني کې لازمه ده چې ځیني کارونه باید ترسره شي چې بدي کې ځیني په لاندي ډول دي:

لومړۍ دا چې خه چال چلند وشي او په ښه ډول سره یو له بل سره ترسره شي الله جل جلاله فرمايي:« وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ» ژباړه:« له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ.» همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې د ښځو سره نیکي کوي همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم په نورو احادیثو کې په همدې باندې ټینګار کړی دی چې باید ښځو سره نیکي ترسره شي او همدارنګه ښځې باید د خپل میړه اطاعت وکړی او که چیرته میړه یی نه وی نو د هغه د نفس او د مال ساتنه باید وکړي.

همدارنګه ددې جملې څخه بل دادې چې خاوند باید پخپلې کورنۍ باندې مصرف وکړي پداسې ډول سره چې د هغوی خوراک څښاک او لباس برابر کړي الله جل جلاله فرمایی:« وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ» ژباړه:« په دې صورت کې به د ماشوم پلار په ښه توګه هغو ته خوراك او جامې ورکوي،» بیا فرمایی:« لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ» ژباړه:« شتمن دي له خپلې شتمنۍ سره سمه نفقه ورکړي» همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم په بیلابیلو حدیثونو کې په همدې باندې ټینګار کړي دي او ویلې دي چې باید پخپلې کورنۍ باندې صدقه ترسره شي او هغه لاس غوره دی چې هغه پورته وي د هغه لاس څخه چې هغه لاندی وي.

همدارنګه ددی جملې څخه بل هم دادې چې د ښځې او د خاوند ترمنځ هغه اسرار چې شتون لري باید د هغه ساتنه وشي ځکه چې دوي دواړه یو له بل لپاره ستر او ارامتیا لامل کیږي او که چیرته هغه اسرار چې د دوي ترمنځ شتون لري هغه ښکاره شي نو دین د هغه غوښتنه نکوي و نه هم اخلاق نو د همدې لپاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم ټینګار کړي چې د قیامت په ورځ خلکو کې د الله په نزد ډیر شرمناکه هغه څوک دی چې هغه د خپلې کورنۍ اسرار خپروي.

همدارنګه ددې جملې څخه بل دادی چې د اولادونو په روزنه کې په ګډه کار وکړي او کورنۍ په ښه ډول سره وروزي د ښځې او د میړه یوازې وظیفه دا نده چې د اولادونو په خوراک څښاک او مادیات برابر کړي بلکې په هغوي دا هم لازمه ده چې د ارزښتونو او د اخلاقو په ساتنه کې او همدارنګه په هغوي کې رامنځته کولو کې هڅه وکړي ترڅو هغوي وکولای شي په ټولنه کې یو ښه ځاي ترلاسه کړي او پدې سره د خپلو پلرونو او د میندو لپاره په دنیا او آخرت کې ګټور تمام شي الله جل جلاله فرمایي:« وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا» ژباړه:« او هغه کسان چې دُعا ګاني کوي چې: "اې زموږ پروردګاره! موږ ته له خپلو میرمنو او اولادونو څخه د سترګو ړنا راکړه او موږ د پرهېزګارانو امامان کړه (په تقوا او اطاعت کې مو تر ټولو مخکې کړه) .» همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي کله چې یو څوک مړ شي د هغه څخه د هغه عمل پرې کیږي مګر درې شیان به پاتې کیږي چې یو صدقه جاریه ده او بل هغه علم چې ګټور وي او بل هغه نیک اولاد چې د مرګ څخه وروسته د هغه لپاره دعاء کوي همدارنګه کورنۍ په اولادونو باندې هم دا لازموي چې د خپلو والدینو د حقونو ساتنه وکړي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:«وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا» ژباړه:« او ستا رب پرېکړه کړېده چې: تاسې د الله پرته بل د هیچا عبادت مه وکړئ. له مور او پلار

سره ښه چار چلند وکړئ.» چې پدې سره امن سکون او د کورنۍ د ټولو وګړو لپاره خوښي رامنځته کيدلي شي.

همدارنګه لدي جملي څخه بل هم دادي چې د ژوند په چارو کې د کورني د وګړو ترمنځ سلا مشوره رامنځته شي ترڅو د کورنۍ ټول وګړي ددی احساس ولر چې هغه اهميت او رول لري پيغمبر صلی الله عليه وسلم د خپلي بی بي ام سلمه رضي الله عنه سره د حديبيه په سوله کې مشوره وکړه او د هغه په رايی باندي پرمخ ولاړو او غوره مشوره وه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته يی ورکړي وه.

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

بی له شکه چې د ښځي او د خاوند کورنۍ هم د کورنۍ په ساتنه کې مهم رول لري او د هغه په برقراري کې مهم رول ادا کولی شي هغه پداسي ډول سره چې د هغوي ترمنځ د ميني محبت او ارامتيا د رامنځته کيدو لپاره کار وکړي او د هغه درناوي وکړي او د هغوي ترمنځ د اختلافاتو د لمنځه وړلو کې ونډه واخلي هغه پداسی ډول سره چې هغوي ته نصيحتونه وکړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا» ژباړه:« او [اې محمده (ص)!] زما (مؤمنو) بندګانو ته ووايه چې (خلکو ته) هغه څه واياست چې ډېر ښه وي. په اصل کښي دا شيطان دی چې د انسانانو په منځ کښي د فساد اچولو هڅه کوي. حقيقت دا دی چې شيطان د انسان ښکاره دښمن دی.» او بيا فرمايي:« وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا» ژباړه:« او که تاسي چيرته د مېړه او مېرمني د اړيکو د خرابېدو په باب انديښمن ياست؛ نو يو منځګړی د مېړه له خپلوانو څخه او يو د مېرمني له خپلوانو څخه وټاکئ. که هغوی دواړه روغه جوړه کول وغواړي؛ نو الله به د هغو دواړو تر منځ د توافق لاره برابره کړي. الله په هر څه پوه او باخبره دی.» نو د پلرونو او د لورګانو او د خپلوانو رول پدی کې ډير زيات مهم دی.

مونږ او تاسي ټول ديته اړتيا لرو چې پخپلو کورنو کې د ارامي او د ميني او محبت رامنځته کيدو لپاره کار وکړو ترڅو زمونږ په ټولنه کې مينه محبت او برقراري رامنځته شي.

**الله د مونږ ته توفيق راکړي چې د خپلو کورنيو د ساتني وړتيا پيدا کړو او الله تعالی د په مونږ کې پرهيزګاري پيدا کړي.**